(د کوچنیانو لپاره ګټورې کیسې)

دانش خپرندویه ټولنه

عبدالقیوم مشوانی

# خیر و شر او کوچنیتوب



کوچنیانو لپاره ګټوری قصی

PROPERTY OF ACKU
11277

# خیروشر او کوچنیتوب

: عبدالقیوم مشوانی

☎:+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب ځانګړنې

---


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | : خیروشراو کوچنیتوب |
| | : عبدالقیوم مشوانی |
| خپرندوی- | دانش خپرندویه ټولنه |
| شمیر- | ۱۰۰۰-ټوکه |
| کمپوز- | وحیدالله وردګ |

دانش کتابتون ،قصه خوانی بازار ،پیښور



ph:2564513\ E.mail:danish2k2000@yahoo.com



# خیر و شر او کوچنیتوب

یوه ورځ له ورځو وه.

له ننه په سلونو کاله وړاندې یوه ورځ هلکان راغونډ شوي وو او لوبه یې کوله. لوبې یې یوه میر ته اړتیا درلوده. د میر د ټاکلو لپاره یې خسنۍ* وکړ، نو د "شر" پر نوم راوخوت. "شر" له هلکانو څخه د یوه نوم و. خو هلکان له شر څخه ناخوښه وو، ځکه چې هغه یې پېژانده او ډېر ځله ورته جوته شوې وه چې هر وخت "شر" میر کېږي، نو سرزوري کوي، سمې خبرې ته غاړه نه ږدي او ځان پر نورو لوړ شمېري.

له همدې امله ټولو هلکانو په یوه خوله وویل: "نه موږ دا خسنۍ نه منو. موږ "شر" نه منو. دا غلط شوې، باید بیا خسنۍ وشي."

PROPERTY OF ARIC Established 1989

"شر" چې د خسني پر سموالي ډاډه و نو په دې خبرو ډېر غوسه شو، چيغه يې کړه: ولې مې نه منئ؟ موږ خو لا تر اوسه لوبه نه ده پيل کړې نو څه پوهېږئ چې زه ښه نه يم؟

له هلکانو څخه يوه وويل: "موږ څو ځله ازموېښت کړی دی، ته چې د نورو په څېر لوبه کوې نو ښه يې خو ستا نيمګړتيا دا ده چې کله پر تا د مير نوم کېښودل شي نو بيا دې سمه خبره پر غوږ نه لګي، سرزوري کوې، تېری کوې، درغلي کوې، د پياوړو او ځواکمنو ملګری کېږې او د ناتوانه پر حق خېټه اچوې، شخړې جوړوې او د لويانو چغربې* پورته کېږي، خو موږ غواړو چې لوبه وکړو او ټول سره برابر او ورونه واوسو، نو پرېږده چې مير بل کس شي."

د نړۍ دود دا دی چې کله ټول يو څيز وغواړي نو هماغه منل کېږي ځکه يو کس د ولس څخه نه شي نيولای. نو "شر" هم اړ شو او له سره بيا خسني وشو.

دا ځله د "خير" پر نامه خسني راوخوت. "خير" د يوه بل هلک نوم و. ټول خوشحاله شول او د وا وا چيغې يې ووهلې. "خير" ښه هلک و، پر ټولو ګران و. ښه روزل شوی و، چا ته يې سپورې ستوغې نه ويلې او په لوبه کې يې



درغلي نه کوله. پر ټولو يې لوربينه درلوده، نو هېڅ پر "خير" نيوکه نه شوه کولای.

کله چې هلکان د "خير" په ميرتابه خوشحاله شول نو د ډېرې کينې له امله د "شر" رنګ سور اوښتی و. "خير" هم پر دې پوه شو نو د دې لپاره چې زړه بداوی پيدا نه شي ويې ويل: اوس زه "شر" د خپل مير مرستيال په توګه ټاکم او "شر" به هم د ټولو له خوښې سره سمه لوبه کوي.

شر نور هلکان خبرو ته پرېښنبودل د خير د خبرو په منځ کې ورغوپه شو ويې ويل: "نه، زه لوبه نه کوم. زه غواړم چې ولاړ شم."

"شر" ډېر خواشينی شوی و، ډېر سپک شوی و او سره له دې چې "خير" پړ نه و، له هغه زړه بدی و، دا سپکاوی يې ونه زغامه، خواشينی شو او ژړندوکی غوندې کورته ولاړ.

هغه ورځ ووته. هلکانو هره ورځ لوبې کولې. دا پېښنه هم هېره شوه: خو "شر" هېره نه کړه. "خير" ته يې په زړه کې کينه واچوله. تل به يې په هغه پسې پسې شا خبرې کولې، چې: "خير" د ټينګې نه دی. له شخړې تښتي. وېرزړی دی زما سره بېديا ته نه راوځي. "خير" ځان خوښی دی. هر ډول

لوبې نه کوي او ...؛ خو د خیر د ضرر او کړولو پلمه په لاس نه ورتله ځکه "خیر" ډېر لوراند و، دومره ښه و چې "شر" ته پلمه په لاس نه ورتله او کله چې به "شر" په هغه پورې ملنډې کولې نو نورو به د "خیر"پلوي کوله.

ډېر کلونه تېر شول "خیر او شر" هم د نورو هلکانو په څېر ژوند تېراوه. یو ځای یې سره لوبې کولې، په یوه ښار کې اوسېدل. د یوې کوڅې هلکان وو او د یو بل تر څنګ لوی شوي وو، خو ډېر لږ به یو تر بله سره مخامخېدل. "خیر" به زیاتره له ښو وګړیو سره کېناسته پاڅېده درلودل او "شر" به له ځان ته ورته کسانو سره ملګرتیا کوله.

ژوند همداسې تېرېده، چې یو کال "خیر" بل ښار ته د سفر اراده وکړه او غوښتل یې چې همالته پاتې شي.

په هغو وختونو کې په دښتي لارو کې دومره امن و امان نه و او په کلیو کې هم د قیمتي شیزونو یا نغدو پیسو د خوندي کولو لپاره د اوسنیو بانکونو په څېر څه وسیله نه وه. له همدې امله کله چې به ځینو وګړو ته د نغدو پیسو یا نورو قیمتي شیزونو ساتنه ګرانه وه نو هغه به یې د خزانې غونډې په یو ځای کې پټول او ځای به یې چاته نه ښوده. په

همدې ډول دغه نغدې او قیمتي څیزونه نورو ته پاتې کېدل.

په سفرونو کې چې به هم څوک له لویو جوپو سره مله نه و، نو هڅه به یې کوله چې لوړ بیه او قیمتي څیزونه ورسره نه وي، یا هغه نغدې چې لري یې پټې وي چې د ډاکوانو ورته سترګې کږې نه وي او مسافر په خپله ډاډه وي.

"خیر" هم چې څه زیات سامانونه درلودل پلورلي یې وو او د هغو پر ځای یې دوه داني قیمتي کاڼي پېرلي وو، چې له ځان سره یې پټ یوسي، په بل ښار کې یې وپلوري او ژوند پانګه ترې ترلاسه کړي.

په وروستیو ورځو کې چې "خیر" لږه لږه له ملګرو سره خدای په اماني کوله "شر" خبر شو، چې "خیر" له دې ښار د تګ اراده لري.

"شر" هم سوچ وکړ او له ځان سره یې وویل: "زه باید پوه شم چې "خیر" څه هوډ لري. د "خیر" هغه هوډونه تل ښه وي او خلک یې ډېر ستايي، زه هم باید کرار کښېننم."

"شر" هم ځان چمتو کړ او په کومه ورځ چې پوه شو چې "خیر" د روانېدو هوډ لري، نو هغه هم سفر ته چمتو و.

پخوا د اوس په څېر سفر کول اسان نه وو، له یوه ښاره بل ښار ته سفر به ډېر وخت نیوه. وګړیو به زیاتره له جوپو سره پلي یا په اسونو، خرو او اوښانو سفرونه کول ځکه چې لارې خطرې وې غلو، ډاکوانو، لارو وهونکیو او نورو د سفر په لاره کې خنډونه اچول. خو "خیر" غوښتل چې یوازې سفر وکړي او د خپل سفر ټول سامان یې په یوه پنډوکي کې ایښې و.

"شر" هم همدا کار وکړ او په یوه ورځ ګهیځ د وره مخې ته دواړه سره مخامخ شول او ویې لیدل چې دواړه په سفر روان دي.

# خیر و شر او سفر

د "شر" چې په "خیر" سترګې ولګېدې ویې ویل:
دا دی ګرانه "خیره" په خیر راورسېدم، چېرته ځې؟
"خیر" وویل: لکه چې تا هم خپله لټاکه (څوري) ترلې؟
"شر" وویل: زما زړه هم په دې ښار کې تنګ شو، نو اراده لرم چې یوه ښه ځای ته ولاړشم. خو ته به څه کار کوې؟
"خیر" وویل: ځم نو هلته به وګورو چې څه پېښېږي؛ څه چې په تندي کې وي هغه به را رسېږي.
"شر" وویل: ښېخي سمه ده، خو زه غواړم چې لومړی "فلاني" ښار ته لاړشم، هلته هرڅه شته اول تر ټولو ځایونو غوره دی.
"خیر"وویل: نوم مې یې اورېدلی دی.

"شر" وویل: لیدل او اورېدل توپیر لري، ما هغه ځای لیدلی دی، هلته چې دې زړه هرڅه غواړي پیدا کېږي. هلته وګړي شپه او ورځ ساعت تېري کوي هر څوک چې هلته وي نو تل خوښ او ښه وي.

"خیر" ورته په ځواب کې وویل: نه پوهېږم، هر چېرته ښه او بد شته؛ خو زه وایم انسان باید په خپله ښه وي، زه په ساعت تېرۍ پسې نه ځم، ځم چې نور ووینم او د الله نړۍ ووینم.

"شر" وویل: "خیره!" ته تل همداسې وې چې بد دې نه وي لیدلي هم ښه ده، اوس زه هم درسره یم، کوم ځای چې دې په زړه وي ځو؛ خو د فلاني ښار ماته پته ده، ډېر ښه ښار دی.

ډېر ښه، اوس خو نو ملګري یو، ځو، که فلانی نه وي نو بستانی خو به وي.

"شر" او "خیر" سره ملګري شول، هر ډول کیسې یې سره کولې "شر" خوشحال و چې له "خیر" سره ملګری دی؛ خو "خیر" ترې بې پروا و.

وکړي يې ډېر لږ تجربه کړي وو ټول يې د ځان په څېر ګڼل او تر هغه مهاله به يې څوک بد نه ګاڼه چې بد به يې ترې نه وو ليدلي.

"خير" او "شر" سره يو ځای لاړل له آبادۍ څخه لېرې وتل، شپه پرې راغله. په داسې لاره روان وو، چې "شر" ته ښه معلومه وه، پخوا پرې تللی و، او ليدلې يې وه. "شر" ډېرو ځايونو ته تللی و، په کوڅه ډبۍ کې يې ډېر څه ليدلي وو؛ خو خير د سفر تجربه نه درلوده پر الله يې بروسه درلوده او ښېګڼه يې د ژوندانه يوه پانګه ګڼله.

په صحرا کې پرې شپه راغله نو اړ شول له تيږو او خاورو يې يوه ګرده موړه ګۍ جوړه کړه او په منځ کې يې پرېوتل.

"خير" خپله لتاکه راوسپړوده. خواړه او د اوبو ژۍ يې ترې راواخيستل په ګډه يې سره ماښامنۍ وخوړه. ويده شول، د سپېدو له چاودو سره روان شول.

دوه ورځې ووتې خو له صحرا ونه وتل، هوا توده وه، هر چېرته چې به کښېناستل او آرام به يې کاوه "خير" به خپل دسترخوان غوړاوه او کوم خواړه چې به ورسره وو، شغه به يې په شريکه سره خوړل او اوبه به يې څښلې. "شر" به هم

کله ناکله پر دسترخوان ډوډۍ اېښوده خو لکه چې "خیر" په خپله لتاکه کې دوه قیمتي کاڼي پټ کړي وو "شر" هماغسې په خپله لتاکه کې د اوبو یو ژۍ پټه کړې وه چې هېڅکله یې د هغې په اړه څه نه ویل.

یوه اونۍ تېره شوه او دواړه ملګري همداسې روان وو. هغه خواړه او اوبه چې له "خیر" سره وو، ختم شول. "شر" پوهېده چې په دومره ورځو کې اوبو ته نه شو رسېدای خو "خیر" دا ګڼله چې اوبو ته رسېږو، نو لوښي به ډک کړو. کله چې له "خیر" سره خوراک څښاک ختم شو، نو "شر" کمغاچې او چل ول پیل کړ او "خیر" ته یې وویل:

اوه ورځې لاره مو وهلې خو له دې ډېره لا پاتې ده او په دې صحرا کې هېڅ خواړه نه پیدا کېږي، نو د دې لپاره چې له لوږې او تندې مړه نه شو او خپل ځای ته ورسېږو باید خوراک څښاک سپما کړو.

"خیر" دا ومنله، له ډېره زغمه یې کار اخیست. تر خپله وسه به یې خوراک نه کاوه له لوږې او تندې به یې پر پوټ (شکایت) نه کاوه. خو له هغو اوبو خبر نه و، چې "شر" په خپله لتاکه کې پټې کړې وې.

په اتمه ورځ چې سوځوونکي لمر هوا ډېره توده کړې وه.
ماسپښین مهال "خیر" له تندې ډېر بې تابه شو نو ویې ویل: "نوره مې ژبه وچه شوې ده، نژدې ده چې له تندې بې سده شم."

"خیر" حیران و، چې ځنګه "شر" له زغمه کار اخلي، ګوزاره کوي او له تندې پرېوت نه کوي، خو یو ځل پوه شو چې "شر" له هغه ژۍ ځخه چې لري یې اوبه څښي.

"خیر" وویل: "چې اوبه درسره دي نو ماته هم لږې راکړه ځکه له تندې زه په لاره نه شم تلای."

"شر" ورته وویل: "نه، تر اوسه وخت شته، اوبه خلاصېږي او تږي پاتې کېږو"

"خیر" وویل: خلاصې خو لا نه دي، لږې به ترې وڅښم، بنایي اوبو ته ورسېږو.

"شر" وویل: یقین وکړه چې په دې ورځو کې اوبو او آبادۍ ته نه شو رسېدای.

"خیر" وویل: په هر حال، خو دا ملګرتوب نه دی چې ستا سره اوبه وي او ما جل ووهي. زه یې نه زباتم خو له ما



سره هم اوبه وي چې په ګډه مو سره وڅښلې که چېرته يوازې واى نو زما توښه به هم تر اوسه نه واى خلاصه.

"شر" په ما پورې څه اړه لري که درلوداى دې نو درلوداى به دې خو نه دې درلودې، چې نه يې لرې. که دې ساتلى نو اوس به هم درسره واى. يانې اوس غواړې چې زه اوبه درکړم ته يې وڅښې او زه له تندې مړ شم؟!

خير ورغبرګه کړه: "زه هېڅکله دا نه وايم، خو ملګري وو، په يوه لاره روان وو هرڅه چې له ما سره وو په ګډه مو وخوړل او وڅښل، نو اوس د دې وخت رارسېدلى چې ته ما مېلمه کړې او له غيبو هېڅوک نه پوهېږي. ښايي اوس اوبو ته ورسېږو. ښايي څوک راسره مخامخ شي چې اوبه ولري، نو وايم داسې چلند وکړه چې ته بيا ماته خجالت نه يې. زما زړه غواړي چې تل يو د بل خيال وساتو، ته چې څه وايې د بې وفايۍ مانا لري. نږدې ده چې زه له تندې بې سده شم او ډېره لاره په مخ کې پرته ده. تا له ګهيځه تر اوسه پورې دوه ځلې اوبه وڅښلې او زه له پرونه تر اوسه تږى يم. هوا هم ډېره توده ده. ته خبرې کولاى شې خو زه نوره ساه نه شم اخيستلاى نو کړوه مې مه."

"شر" ورته وويل: "لومړی خو دې وویل چې خجالت نه شې، زه نه خجالت کېږم بلکه دا چې ودې ویل بې وفایي، نو همداسې وګڼه، ملګرتیا نه ملګرتیا. دلته بل ښار نه شته، صحرا ده مرګ دی او ژوند دی. غواړم چې او یا کاله مې پر لور هم راونه ګورې. تا له کوچنیتابه څخه همدا خبرې کولې چې ویل به یې ښه سړی دی خو دلته هغه خبرې نه چلېږي. هغه وخت دې یاد دی چې هلکانو زه نه منلم او ته یې وټاکلې؟

له دې خبرې سره چې "شر" وکړې "خیر" پوه شو چې له یوه دښمن سره روان دی چې د یوه اندیوال په ډول یې هغه دې صحرا ته راوستی دی. سره له دې چې "خیر" پوهېده چې زه ګناهګار نه یم خو "شر" ته موقع په لاس ورغلې چې ما وکړوي. له همدې امله یې وپتېیله چې "شر" مال ته تمه کړي.

"خیر" وویل: "شره" ګوره دا ښه کار نه دی چې په دې توده صحرا کې له تندې مړ شم اخر به یو ځای ته ورسېږو. اوس لږ انصاف وکړه لږې اوبه راته وړیا راکړه، یا یې راباندې وپلوره، موږ خو د یوه ښار استوګن یو. یو ځای

سره لوی شوي یو او له دې وروسته هم ښایي چې په نړۍ کې یو تر بله سره ډېر کارونه ولرو. زما سره همدا اوس دوه دانې قیمتي کاڼي شته، چې د خپل پلورلي سامان په پیسو مې پېرلي دي. زه چمتو یم چې هغه تا ته وبخښم او له تا څخه د یو ځل څښلو اوبه وپېرم اوس راضي یې؟

"شر" وویل: ته! ما غولوې؟ دلته چې هېڅوک نه شته نو غواړې چې ماته دوه دانې کاڼي راکړې او اوبه وڅښې او بیا مې په ښار کې وشرموې او بېرته یې راڅخه واخلې؟ زه په دې چلونو ښه پوهېږم، ستا په خبر په سلونو یې له ما زده کوي. زه دې هم د ځان په خبر کم عقل وګڼلم؟

"خیر" چې د تندې له امله یې نور غږ ناست و او سترګې یې خړې شوې وې، بې تابه پر ځمکه کېناست او ورته ویې ویل:

"شره!" والله که مې دا په زړه کې ګرځېدلي وي. سمه ده چې ته هم پوهېږې چې د یو ځل څښلو اوبه پر دوو کاڼو نه ارزي؛ خو معا ته لا تر دې هم ډېر ارزښت لري. وایي دنیا (پانګه) د توري شپې څراغ دی او له دې څخه ښه وخت نور نه شته. نو باور وکړه چې کاڼي درته په خپله خوښه او ښه

په مینه درکوم او بیا یې هېڅ تمه نه لرم. لا دې ته هم چمتو یم چې په ښار کې درته خپله ټوله شتمني هم پرېږدم.

"شر" وویل: زه پوهېږم چې اوبو ته اړ یې ځکه دا خبرې کوې. انسان چې کله بند او اړ وي نو ډېرې خبرې او ژمنې کوي خو بیا پښېمانه وي. که رښتیا وایې نو بل کار وکړه. لس کاله کېږي چې تا ته نه شم کتلای، له هغې ورځې را وروسته چې زه مو په لوبه کې پرېښنودم تا ته سترګې نه شم غړولای. نو اوس هغه وخت را رسېدلی چې بدل واخلم او ته هم ما ونه کتلای شې، کاښي چې وایې هغه دې خپل مال دی خو زه چمتو یم چې د سترګو دوه ګاټې دې وکاږم او سترګې دې ړندې کړم نو بیا چې څومره اوبه غواړې وڅښه، زه دا کاښي غواړم چې بیا یې بېرته وانه خیستی شي.

"خیر"چې دا واورېدل، سوړ اسوېلي یې وکیښ او ویې ویل: عجیبه بې خیره او شري سړی یې! له الله څخه هم نه شرمېږې؟ د یو څښاک اوبو لپاره زما ړندېدل! څنګه دې زړه مني چې دا خبره وکړې. "شره" ما ته دومره سخت زړی او بې نیاوه (بې انصافه) نه ګڼلې، نږدې ده چې زه له تندې بې سده شم او ته دومره سخت زړی کېږې؟!"

"شر" وويل: همدومره مې درته وويل زړه دې که غواړې يې هغه ده که نه نو زه درځخه لاړم؛ خو په دې هم پوه شه چې په دې دښته کې نه اوبه شته او نه انسان هر لور ته تر آبادۍ پورې اوه ورځې لاره ده، نه مخکې تلای شې او نه بېرته ګرځېدای، يا بايد په دې دښته کې مړ شې او يا ړوند شې او ژوندی واوسې."

"خير" نورې خبرې نه شوی کولای، خو دا يې هم باور نه کېده چې "شر"دې دومره سخت زړی وي ځکه د منلو وړ نه ده چې څوک دې د يو څښاک اوبو لپاره د چا سترګې ړندې کړي؛ خو نږدې وو، چې خير له تندې بې سده شي، نو ناچاره شو، قضا ته يې غاړه کېښوده، شر ته يې وويل: ته پوهېږې او نياودې زه خو باور نه کوم، خو غواړم چې ژوندی پاتې شم، هر څه چې کوې ماته اوبه راکړه، دا ته او دا زما سترګې.

د خير خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې "شر" د اوسپنې سيخ د "خير" په دواړو سترګو کې ورومانده او سترګې يې له وينو ډکې شوې. "خير" له ډېره درده کړيکې کړې: "وای الله" او پر ځمکه بې سده راوغورځېده.

"شر" بې دينه پرته له دې چې هغه ته اوبه ورکړي، بې ځنډه يې د هغه له لتماکې څخه جامې او کالي راواخيستل او خپله لار يې ونيوله.

"خير" تر څه وخته بې سده پروت و، چې څنګه په سد شو نو پوه شو چې "شر" يوازې او هغه تللی. "خير" په خاورو کې رغړېده په سترګو يې لاس ايښي وو او کړيکې يې وهلې. خو د الله پرېکړه دا وه چې "خير" ژوندی پاتې شي نو يوې ښې پيښې سره مخامخ شو.

# "خیر" او د خیر پېښنه

"شر" ویلي وو، چې دا دښته اوبه نه لري او د آبادۍ په لور هرې خواته اوه ورځې مزل دی؛ خو "شر" درواغ ویلي وو. د الله کړه وو. له هغه ځایه لږ ور لیرې د اوبو کوهي و، او بلې خوا ته یې یو کږدۍ مېشتې کوچې له خپلو ملګرو سره اوسېده.

لکه څنګه چې ښاریان له ښار او کلیوال له کلیو سره ډېر بلد وي نو کږدۍ مېشتي هم له غرونو او دښتو سره ډېر اشنا وي. کږدۍ یې کور دی چې هر چېرته یې زړه وي، دروي یې. پانګه یې هم غواوې، مېږې او اوښان دي چې تل ورسره وي کله کله په ښارونو کې راکړه ورکړه کوي؛ خو زیات ژوند یې په دښتو کې تېرېږي. په اوړي کې ښکلو او سړو سیمو او په ژمي کې تودو سیمو ته ځي. لږه کرکیله کوي او ډېره څاروي زوزنه.

دوه درې ورځې دمخه يوه کوچۍ له خپلې کورنۍ سره د دغې دښتې د يوې غونډۍ په لمنه کې کږدۍ وهلې وه او خپلې مېږې يې په څرځايونو کې پوولې. هغوی خپلې کږدۍ په يوه غوره ځای کې درولې وې خو د اوبو له کوهي څخه لېرې وې.

د کوچيانو د کورنيو مشر يوه ډېره ښه خوا خوږې او مهربانه لور درلوده. نجلۍ خوينديې او ورونه نه درلودل. مور ته پر خدمت کولو به تل خوښېده. په هماغه ورځ تر ماسپښين وروسته د کږدۍ لاندې ناست وو، چې مور يې تږې شوه اوبه تودې وې. د کوچۍ لور منګی راواخيست او ويې ويل: زه ځم له کوهي څخه سړې اوبه راوړم. نجلۍ په يوه لېرې او بې خنډه لار کوهي ته ولاړه. په بوکې پورې يې پړی وتاړه، اوبه يې راوويستې او په منځنۍ لاره کږدۍ ته روانه شوه. د لارې په منځ کې يې ناببره د زګېروي غږ تر غوږو شو. په حيرانۍ سره د غږ پر لور ورغله. ګوري چې "خير" په وينو لتې پتې سترګې بې تابه پروت دی او الله الله وايي. نجلۍ چې "خير" په هغسې حال کې وليد کاواکه ور وړاندې شوه، پرې ورغږ يې کړ:

اې لارويه! څوک يې؟ دلته څه کوې؟ ولې دلته يوازې پروت يې؟ دا دربانديې چا څه کړي دي؟

يا الله خوب وينم که ويښ يم، ته څوک يې؟

"خير"چې د هغې غږ واورېد، چيغه يې کړه: زه هم نه پوهېږم چې ته څوک يې. که ملايک يې که انسان يې، هر څوک چې يې زه له تندې مرم. که له لاسه دې کېږي لږې اوبه راوړه چې ژوندی پاتې شم او که نه شې کولای نو په خپل حال مې پرېږده.

د کوچي لور بله خبره ونه کړه. ور وړاندې شوه. منګې يې ورکښته کړ او ويې ويل: "هه، دا اوبه. الله دا څه حال دی؟"

"خير" لاس وروغځاوه. پر منګي يې لاس ولګېده ويې نيوه لږې اوبه يې وڅښلې او ويې ويل: يا الله شکر وژغورل شوم، اې ژغورنده ملايکې الله ته راستولې وې. تا زه وژغورلم، ته بايد ما وژغورې، خو پر سترګو نه وينم. آه سترګې مې.

"خير" ناست و او پر وينو لتو پتو سترګو يې لاس ابنې وو.

د کوچي لور وويل: ښه اوس پاڅېږه، چې ښه ځای ته دې ورسوم: خو "خير" پاڅېدای نه شو. لينګي يې له ګرمۍ او تندې بې تابه شوي وو. نجلۍ ور وړاندې شوه له تخرګه يې لاس ور لاندې کړ، مرسته يې ورسره وکړه نو "خير" پاڅېد. نجلۍ يې مټ ونيوه او ورو ورو يې پر لاره روان کړ، چې کړديو ته ورنږدې شول د کوچي لور لاروي پوه مزد ورته وسپاره او تينګار يې پرې وکړ چې ورو وزو يې کږديو ته ورسوي. په خپله ژر لاره او خپلې مور ته يې کيسه وکړه چې يو لاروی هغسې او داسې په دښته کې پر ځاورو پروت و.

مور يې وويل: "وخ، وخ نو ولې دې رانه وست. ولې يوازې راغلې؟ هله ژر شه ځای ره وښايه چې لاړ شي او رايې ولي."

نجلۍ وويل: "مورجانې همداسې مې وکړه، رامې وست. مزدورانو ته مې وسپاره اوس رارسېږي."

په همدې وخت کې يې "خير" راورساوه تر کږدۍ لاندې يې ځملاوه بالښت يې تر سر ورلاندې کړ. دسترخوان يې

ورته خپور کړ، ښوروا، کباب او نور خواړه یې ورته له اوبو سره راوړل.

خیر لږ خواړه وخواړه اوبه یې وڅښې نو لږ په ارام شو نو بیا یې مخ و لاس ورته ومینځل د سترګو شاوخوا یې ورته په کراره له وینو پاکه کړه او بیا یې ورته په پاسته ټوکر سترګې وتړلې تر درد من سر یې بالښت ور لاندې کړ او ویده یې کړ.

د "خیر" پر پېښې هېڅوک خبر نه وو او په دغه حال کې تري هېڅا پوښتنه هم ونه کړه کړمن او لاروی انسان و. چې د ښو وګړیو مېلمه شو او د ستړتیا او درد له امله لکه د بې سده او بې حاله په ځبر ویده شو.

ماښام د نجلۍ پلار له صحرا څخه کور ته راغی. کړدی ته له رانوتو سره یې په مېلمه سترګې ولګېدې. نو ډېر خوښ شو خو د "خیر"د ستړیا او ناخواکۍ له امله حیران شو. د احوال پوښتنه یې ورنه وکړه.

لور یې ورته کیسه وکړه خو ویې ویل چې له پېښې یې خبر نه یم. خو کاشکې د هغه د سترګو د تپ درملنه یې تازه په تازه کولای شوای.

کوچي مشر د "خیر" سترګې وکتلې چې تپ یې تازه و نو پوښتنه یې وکړه څه درپېښ شوي؟ "خیر" خوښه نه کړه چې د خپل ملګري او ښاري له بې نیاوۍ او ناځوانۍ څخه خواشیني څرګنده کړي نو ویې ویل: زما داستان ډېر اوږد دی، خو لنډه دا چې یوازې مې سفر کاوه. غله رابانديې راپېښ شول، غوښتل مې چې ورسره وجنګېږم خو تږی او بې تابه وم، نو هر څه چې مې درلودل هغه یې راڅخه واخیستل، ړوند یې کړم او خپله لاره یې ونیوه.

کوچي مشر لږ غلی شو او بیا یې پوښتنه وکړه: نوم دې څه دی؟ ویل "خیر" ویل هیله من یم چې الله به هم خیر درپېښ کړي. له نېکه مرغه په دې دښته کې یوه ونه ده چې موږ ورته "دارو پاڼې" وایو. که د هغې څو پاڼې وتکول شي او په اوبو کې وخوټول شي بیا ترې نرمه پټۍ جوړه او په خوږ سترګې کېښودل شي نو رغېږي.

بیا یې وویل: که شپه نه وای او زه ستړی نه وای ځکه تیاره ده او لاره لیرې ده نو ما همدا اوس درته دا پټۍ جوړوله. "دارو پاڼې" ونه کوهي سره نږدې ده ډېره پخوانۍ او ګڼه ګوره ونه ده. دوه ښاخونه لري چې د یوه ښاخ پاڼې

يې د سترګو درمل دي او د بل هغه يې د مېرګو او بې هوشۍ درمل دي. سبا به پټۍ درته چمتو کړم.

د کوچي لور چې دا خبره واورېده سم د واره يې وويل: اې پلاره، چې چاره لري نو همدا نن شپه يې چاره وکړه. سبا ته يې مه پرېږده مېلمه د الله دوست دی. موږ مېلمه په درد اوکړاو کې نه شو پرېښوداى. موږه ډېرې سړې تودې ليدلې دي نو ډېر زغم لرو خو ښاريان نازک وي. ليرې لاره په همت سره رانږدې کړه او د شپې تياره د انسان دوستۍ په رڼا روښانه کړه، ستا سترګيا هم د دې ځوان تر درد ډېره نه ده. د درد درملنه سباته پرېښوداى شي، خو پر تازه ټپ بايد ژر پټۍ کېښودل شي. که ته نه شې تلاى نو زه به ونې ته لاړه شم. د صحرا نجلۍ له تيارې څخه نه وېرېږي.

پلار چې کله د لور زارې واورېده نو د ښېګڼې مينه ورسره پيدا شوه، مخکې له دې چې خوراک ځښاک وکړي، پاڅېده او ويې ويل: "لورې چې داسې ده نو پلار د کار لپاره تر لور ډېر وږ دی." کڅوړه يې راواخيسته او په تونديې د "دارو پاڼې" ونې خوا ته وخوځېد. د سترګو د درملو ښاخ ته وخوت او يو موټې پاڼې يې ترې راوشکولې

او په کڅوړه کې يې واچولې او بېرته راغی. د کوچي لور سمدواره پاڼې په هاونګ کې وټکولې لړې اوبه يې پکې واچولې ويې خوټولې بيا يې ښې نرمې کړې د هډوکي د مغزو په غوړو کې يې واغږلې مرهم يې ترې جوړ کړ او د "خير" په سترګو يې کېښودل په پاک ټوکر يې وتړلې نو تر لږ ساعت کېناستو وروسته مېلمه ويده شو.

کوچي مشر لارښوونه وکړه چې بايد پنځه ورځې د "خير" په سترګو همداسې پټۍ تړلې وي. او په دغو ورځو کې يې لور ته د "خير"خدمت او ساتنې سپارښتنه وکړه. په پنځمه ورځ يې ترې ټوکر پرانيست پټۍ يې ترې ليرې کړه. "خير" سترګې وغړولې نو د لومړي ځل لپاره يې خپل ژغورونکي وليدل. د دعا لاس يې ورته پورته کړل او د الله شکر يې وويست. کوچي مشر او کورنۍ يې د مېلمه د سترګو په رغېدا خوشاله شول؛ خو تر ټولو د کوچي لور ډېره خوشاله وه، ځکه چې هغه د "خير" د ژغورنې لامل ګرځېدلې وه او دې ورته خوند ورکاوه چې يو انسان يې له مرينې او ړندېدا څخه ژغورلی دی او په نړۍ کې تر ښه والي او ښېګڼې غوره بل هېڅ نه شته.

"خیر" چې د خپلو سترګو له تېونو په لومړیو ورځو کې وبربدلي و، پوښتنه یې وکړه: "پلار جانه، تاسو څنګه د هغې ونې د پاڼو پر خواصو پوهېدئ؟" هغه وویل: څنګه؟ د وګړیو له تجربو. اړ انسان هره وسیله تجربه کوي او نوي څېړونه زده کوي. که موږ د ونو بوټو، ځېلو او ګلانو، وښو او ګیاګانو او اغزیو په خاصیتونو پوه نه شو نو څوک به پرې پوهېږي؟ د ښار وګړیو ته خو طبیب او درمل پیدا کېږي نو د دې څېړونو پروا نه لري، خو زمونږ پلرونو چې په دښتو کې ژوند کاوه د دې ناپېژندلو نعمتونو په ډېرو خواصو پوهېدل او یو تر بله به یې ښودل.

کله کله چې له تورو توتانو لاسونه رنګ اخلي او تر څو ورځو پورې په هېڅ ډول مینځلو نه ځي ښاریان نه پوهېږي چې څه وکړي خو موږ پوهېږو چې که د هماغې ونې شنې پاڼې وټکول شي او لړې اوبه ورسره ګډې شي، بیا پرې لاس ومینځل شي لړ ځګ کوي او د توتانو رنګ سمدواره لمنځه وړي. موږ ته دا څېزونه ډېر ساده ښکاري، خو چې څوک پرې نه پوهېږي نو حیرانېږي.





"الله د هرې ناروغۍ درمل پیدا کړی" دا دښتې او صحراوې له دارو درملو ډک دي. هېڅ ښاخ. پاڼه او بوټي نه شته چې یو خاصیت ونه لري، خو یوازې انسان ته اړتیا لري چې هغه وپېژني او د اړتیا پر مهال یې وکاروي. دا تجربه ما هم له خپل پلار زده کړې ده او هغه هم له خپلو پلرونو زده کړې وه، خو خوشاله یم چې دې درملو ښه اغېز درلود. ډېر څیزونه شته چې تر اوسه یې مور نه پېژنو خو د دې پاڼو پر خاصیت پوهېدم.

"خیر"شکر وویست او له هماغې ورځې یې له ځان سره ژمنه وکړه چې تر کومه یې له لاسه کېږي او الله ته منظوره وي نو د دې کورنۍ خادم به وي ځکه د همدغې کورنۍ په هوسیله یې سترګې بېرته رغېدلې وې.

کوچی مشر هم د هغه په پالنې خوشاله و. "خیر" هم د هغوی د کورنۍ د یوه غړي په څېر ورسره ژوند کاوه په ټولو کارونو کې یې ورسره مرسته کوله. په یوه دسترخوان به یې ورسره ډوډۍ خوړله او هره ورځ به د کوچي مشر او د هغه له مزدورانو سره دښتې ته وت او رمه به یې ورسره څروله، ځکه نو ورځ تر ورځ هغوی ته ګرانېده.

کله چې ټولو سره ګډ ژوند وکړ او مينه يې سره زياته شوه نو رازونه يې سره ګډ کړل. "خير" هم ورو ورو د خپلې تندې د اوبو د اخيستلو او د کانو ورکولو او د "شر" د بې نياوۍ او خپلې ړند يدا کيسه په ډاګه کړه. او دا يې هم څرګنده کړه چې په ټوله نړۍ کې پرې د کوچې لور ډېره ګرانه ده.

کوچۍ مشر د "خير" په احساس پېژندنه ډېر خوشاله شو د نورې کورنۍ غړونو ته يې هم د "خير" کيسه ورسېده نو پر ټولو ګران شو. ټولو د "خير" ښېګڼې ليدلې نو د ټولو په زړونو کې يې ځای نيولی و؛ خو يوې پېښې "خير" ډېر کړاوه.

# خیر او د کوچي لور

خومره چې "خیر" د کوچي مشر په کورنۍ کې پاتې کېده نو د کوچي د لور په ښېګڼو مېینېده، سره له دې چې د کوچي لور ته یې نه ورکتل خو د هغې کړه وړه یې ډېر خوښېده "خیر" په ځان لږ لږ پوه شو چې مین شوی دی، او د دغې نجلۍ له مېړتوبه. بله ښه نېکمرغي نه ګڼي؛ خو له ځان سره یې سوچ کاوه چې هغه چیرې او دغه نېکمرغي چېرته!

خپل زړه یې نه شو کابو کولای او د کوچي له لور سره د واده هیله یې له مغزو نه شوه ویستلای نو له ځان سره یې سوچ کاوه چې:

نیست ممکن که این چنین دلبند

با چو من مفلسې کند پیوند

دختـری را بدیـن جمـال و کمـال
نـتوان یافـت بـی خزیـنه و مـال
مـن کـه نـانی خـورم بـه درویشـی
کی نمهم چشم خویـش بر خویشـی

یو مهال "خیر" سوچ وکړ چې دا پیوند نه بنایي او د کوچي د لور د میړتوب هیله یې نه شي ترسره کېدای نو له خان سره یې وویل ښه به دا وي چې دا خبره یاده نه کړم او د نجلۍ مور و پلار خواشیني نه کړم. که هغوی په خپله په دې کار سلا هم وي خو ښایي د خپلوانو او قومیانو له خوا پرې یې هم غوسه راوپاروي.

"خیر" ډېر هوښیار ځوان و، چې هېڅکله یې د خپلې هوښیارۍ واګې د هیلو او احساساتو په لاس کې نه ورکولې. هغه پوهېده چې د لیلا او مجنون د مینې په څېر مینه یوه ناروغي ده او سالمه مینه هېڅکله د لېونتوب په څېر نه وي. هغه پوهېده چې د ښو عادتونو او ښېګڼو له امله پرې د کوچي لور زړه بایللی او که له هغې څخه لیرې وي نو پر ځای یې له بل چا سره مینه پیدا کېږي. نو له ځان سره یې پرېکړه وکړه، ښه به دا وي چې په یوه پلمه له دې

خایـه حـان وباسم او په بل ځای کې خپل پرخلیک ته انتظار وکړم.

د شپې چې کوچی مشر کړدی ته راغی "خیر" وویل:
"ډېر وخت کېږي چې د یوې خبرې په اړه سوچ کوم او ډېر مې ځوروي غواړم چې درسره شریکه یې کړم."

کوچي وویل: هرڅه چې دې په زړه دي ووایه، چې څه وایې منل کېږي. موږ لُه تا څخه له ښېګڼې پرته بل څه نه دي لیدلي او ستا لپاره له ښېګڼې پرته نور څه نه غواړو.

"خیر" وویل: د زړه له کومې درڅخه مننه؛ خو هغه څه چې زه یې ویل غواړم دا دي چې زه ستاسو په لاسو ژوندی شوی یم، ستاسو کورنۍ زه له مړینې، ړندېدا او دړپدرۍ څخه ژغورلی یم. نو زه مو په خوله له مننې څخه ناتوانه یم او تر څو چې ژوندی یم نو ستاسو په یاد به ژوندی یم؛ خو څه وکړم زه هم انسان یم. له څه وخته راهیسې د قوم، خپلوانو ښار او کور سوچونو راخیستی یم نو اراده لرم چې لاړشم او هغوی ووینم. پوهېږم چې تاسې مبلمه پالنه خوښوئ او په ښېګڼه خوشالېږئ خو دا وېره راسره ده چې زما د احوال په نه لګېدو به مې ملګري وکړېږي. هېڅانه

پته نه شته چې زه چېرته يم، مړ يم که ژوندی! سره له دې چې ژوند مې دلته ډېر ښه تېرېږي، خو د کور ملګرو غم مې کړوي او داسې انګېرم چې يوازې يم. غواړم له تاسو هيله وکړم چې اجازه راته وکړئ چې سر له سبا خپل ښار و کور ته لاړشم. هيله لرم چې ماته دلته د خپلې مينې بخښنه وکړئ او راځئ خوښ واوسئ نور دلته زما پاتې کېدل ستونزمن دي. تاسو څه وايast؟ زما واک ستاسو په لاس کې دی.

ټوله کورنۍ د "خير" په تګ خواشينې شوه خو کوچي مشر فکر وکړ د کړدۍ له کونج سره يې خبرې پيل کړې او ورته ويې ويل:

اې ګرانه ښه او مهربانه ځوانه که ته دې د خپل زړه غوښتنه ومنې زه هېڅ نيوکه نه لرم د خپل واک څښتن يې، خو نه پوهېږم چې څه شي خپل ښار و کور درياد کړي دي؟ فرض مې کړه چې خپل ښار ته ولاړې او د "شر" په څېر د خپل يوه بل ښاري له لاسه وکړېدې او يا ونه کړېدې او څه مهال خوښ يې؛ خو دلته درته څه کم دي؟

ما چې هر څومره چړت وواهه، پوه نه شوم، چې ته څه شی خواشینی کړی یې، پرته له دې چې ته ځوان یې او ځان یوازې او ګوښه ګڼې. زه په دې خبره پوهېږم. زه هم یو مهال ستا په څېر وم. او که ته په پردېسۍ کې داسې ګڼې نو زه په خپله کورنۍ او قبیله کې همداسې شوی وم. د دې چاره هم کېدای شي. زه پوهېږم چې هرڅه دې زړه ته کېږي دلته شته دي او زما ټوله شتمني ستا په واک کې ده؛ خو په دې خواشینی یې چې ځان پردیس ګڼې او مېلمه او چې زما په ښځه او لور دې سترګې لګي نو باید څنډې ته شي او د پردیو غوندې ځان وګڼې؛ خو که زمونږ له کورنۍ سره دې اړیکه درلودای نو بیا به داسې نه وای.

اجاز راکړه چې ووایم د دې کړاو چاره هم کولای شم. پوهېږم چې زما لور ښه خواخوږې، لاسخوځې، پاک زړې او ځیرکه ده. بد خویه هم نه ده، که څه هم د ښاري نجونو غوندې مصنوعي ښکلا نه لري، خو یوازې ښکلا د هېڅ درد درملنه نه شي کولای. او که ښېګڼه نه وي نو د نړۍ ټولې ښکلاوې په دوو اوربشو نه ارزي. زه په نړۍ کې همدا یوه لور لرم نو له ځانه راته هم ګرانه ده او د هغې له کړو

ورو پوهېږم چې ته پرې ګران يې. که خوښه دې وي او زړه دې کېږي. زه خپله لور ستا په نامه کوم او ته به هم لکه زمونږ د خپلې کورنۍ په څېر زمونږ سره پاتې کېږې او ښه خوشاله ژوند به راسره کوې، نور څه وايې؟

اوس نو د "خير" وار ؤ، چې له خوشالۍ څخه وژاړي. د مينې اوښکې يې په سترګو کې وغړېدې او ځواب يې ورکړ: اې ګرانه پلاره ژوندی اوسې الله دې راته تل لره، چې زما چوپه خوله دې ببرته کړه او زما له زړه دې د غم پېټی پورته کړ. هغه څه چې ډېر وخت زما په زړه کې وو، خو په خوله مې نه شو ويلای همدا وو. ما ځان کوچنی او کمتر ګاڼه ځکه هېڅ شتمني مې نه درلوده. خو ستا ګرانه لور خو ستا لور ده. او که دا خپلوي کېدای شي نو بيا خو مو زه ژوندی کړی يم، سترګې مو رابخښلې دي او نيکمرغه کړی مو هم يم.

پلار وويل: زه سبا يو ځل له خپلې لوره په دې اړه پوښتم نور کار خلاص دی. سبا ته پلار لور له مور سره راوغوښته او خبره يې رامنځ ته کړه. نجلۍ هم د مينې له اوښکو پرته

بل خواب نه درلود. د پلار لاس یې مچ کړ او ویې ویل:
"پلاره..." نور یې هیڅ ونه شو ویلای.

پلار وویل: "ډېر ښه، چې خوښه مو ده نو ژر وواياست
ژاړې خندل کوئ" سمدواره کوچي مشر د واده تابیا وکړه او د
کوچیانو له دود سره سم یې په خوشاله خوشالۍ د واده
مراسم تر سره کړل او لور یې "خیر" ته نکاح کړه. ورپسې
کوچي د خپلې شتمنۍ، کور او نورو چارو واک هم "خیر"
ته وسپاره او خیر وروسته له دې چې یوه ورځ یې هر څه ان
سترګې هم بایللې وې بیا یې هر څه ترلاسه کړل او د کوچي
له کورنۍ او خپلې ناوې سره یې ترو تازه او خوښ ژوند
درلود.

# "خیر" او ښېګڼه

یوه اونۍ وروسته چې غوښتل یې له هغې دښتې وکوچېږي او خپلې رمې بل ځای ته بوځي، وریاده شوه چې باید لاړشي او د "دارو پاڼې" ونې څخه یوه اندازه پاڼې وشکوي او هر چېرته یې له ځانه سره وګرځوي.

"خیر" له ځانه سره وویل لکه چې زما ړندې سترګې پر همدغو پاڼو ورغېدې ښایي یوه ورځ زما په لاس د یوه بل ناروغ درملنه وشي او د الله د نعمت شکر پرځای کړم. د نعمت شکر دا نه دی چې په ژبه ووایې: "د الله شکر" د نعمت شکر دا دی چې په هر څه چې پوهېږې د نورو خیر پکې ولټوې.

"خیر" ماښام مهال د ونې په لور لاړ، د ونې له پاڼو یې دوه کڅوړې ډکې کړې او د خپل سامان په منځ کې یې پټې خوندي کړې او هر چېرته به یې له ځانه سره ګرځولې.

همداسې وخت تېرېده چې يو ځل په خپلو ګرځېدو کې يوه لوى ښار ته ورننېدې شوي وو او همالته يې کړېدى لګولې وې. "خير" د څه راکړې ورکړې لپاره ښار ته ورغلى و. په ښار کې يې واورېدل چې د هغه ښار د واکمن يوه لور ډېر کلونه د مړګو په ناروغۍ اخته ده او هر څومره دارو درمل چې يې کړي څه نتيجه يې نه ده ورکړې او ټول حکيمان او ډاکټران يې په درملنه نه دي بريالي شوي.

دا يې هم واورېدل چې د ليريو او نږدې ښارونو ډېر ډاکټران د پانګې او دندې د ترلاسه کولو په هيله د واکمن د لور د درملنې لپاره د هغه دربار ته ورغلي دي. واکمن د هغوى په تګ راتګ نور ستړى شوى دى نو امر يې کړى دى چې اعلان وکړي: هر چا چې د نجلۍ درملنه وکړه واکمن نجلۍ هم هغه ته نکاح کوي او هغه به د ښار د واکمن زوم وي، خو که هر چا بې ځايه باتې ووهلې او د نجلۍ درملنه يې ونه کړى شوه نو خون يې په خپله غاړه دى. له هغه مهاله وروسته، چې دا شرط يې اېښى و څو کسه ډاکټران هم رټل شوي وو نو نور چا د واکمن د لور د درملنې د دعوې زړورتيا نه شوه کولاى يوازې هغو

ډاکټرانو زړه ټینګولای شو چې له لیریو ځایونو به راتلل او په خپله تجربه به یې ډېر ډاډ درلود. خو لاتر دغه مهاله د نجلۍ د ناروغۍ درمل نه وو پیدا شوی نو واکمن ډېر خواشیني و.

کله چې "خیر" دغه کیسه واورېده نو سوداګرو ته یې وویل: "زه د واکمن د لور درملنه کولای شم." خو سوداګرو هغه وبراوه او ویې ویل: "کېدای شي داسې خبره دې له خولې ونه وځي. چې سر دې پرې کړي ځکه ډېرو مشهورو ډاکټرانو یې درملنه نه ده کړې.

"خیر" وویل: "همدا زما کار دی. باید واکمن ته خبر ورولېږم" څرنګه چې ښاریان د دې خبر په وروړلو وېرېدل نو "خیر" یو زوړ کلیوال سړی دربار ته ورولېږه او دا پیغام یې ور ورساوه، چې: اې واکمنه! زه په دې ښار کې پردېس یم او نن تازه دې ښار ته راغلی یم، ستا د لور له ناروغۍ خبر شوی یم؛ خو د دې ناروغۍ درمل زما سره شته. زه چمتو یم که اجازه وکړې نو د لور درملنه دې کوم؛ خو په دې شرط چې په دې کار هېڅ بدله نه غواړم بلکې دا کار

يوازې د الله د خوښې لپاره کوم او که درملنه مې ونه کړای شوه نو فرمان خو ستا فرمان دی.

د پيغام له رسېدو سره سم واکمن امر وکړ چې "خير" راولئ "خير" يې دربار ته بوت. واکمن چې کله "خير"وليد نو د هغه له حال، ساده ګۍ او ښېګڼو څخه پوه شو، پوښتنه يې ترې وکړه نوم دې څه دی؟

"خير" وويل: نوم مې "خير" دی.

نوم يې د واکمن خوښ شو او هغه يې د نېکمرغۍ فال وګاڼه نو ويې ويل: "هيله مند يم چې د کار پايله به دې هم خير وي." وروسته يې هغه يوه محرم کس ته وسپاره او د نجلۍ هستوګنځي ته يې ولېږه.

"خير" ننوت او ښکلې انځورې نجلۍ ته يې يو ځل ور وکتل. نجلۍ د سردردۍ له امله پرپوټ کاوه. ورته وويل شول چې له ميرګو څخه دا سخته ده چې نجلۍ ته د بې سدۍ له هرې حملې وروسته څو ورځې پرلپسې خوب نه ورځي او د بې خوبۍ له امله ورته سردردي پيدا کېږي نو ناروغي يې هم زياتره د دې بې خوبۍ له امله ده.

"خیر" وویل: د الله په مرسته هغه له دې ناروغۍ ژغورم. بیا یې وویل اور راوړئ د اوبو یو لوښی او څه بوره هم راوړئ. بیا یې خپله غوټه چې هماغه "دارو پاڼې" وې، راوسپړله او د خدمتګارانو په مخکې یې هغه پاڼې له بورې سره په اوبو کې وخوټکولې او شربت یې ترې جوړ کړ. له سړېدو سره سم یې یوه پیاله له شربت انځورې نجلۍ ته ورکړ.

نجلۍ شربت وڅښه لږه شیبه لا نه وه تېره چې سردردي یې کراره شوه. سر یې پر بالښت کېښووده او په کرارۍ سره ویده شوه. حاضرینو "خیر" ته دعا وکړه او ویې ویل چې له ډېره مهاله راهیسې انځورې نجلۍ داسې په کرارۍ خوب نه دی کړی. "خیر" وویل چې نجلۍ باید راویښه نه کړی شي تر څو په خپله راویښه شي. او که بیا ورته سردردي پیدا شوه نو هغه دې راخبر کړی شي. د خپل کور پته یې ورکړه او په خوشالۍ سره کورته ستون شو.

نجلۍ د نورو ورځو په پرتله ډېره ویده شوه، خو چې راویښه شوه نو سردردي یې نه درلوده او خوړو ته یې اشتها راغلې وه. سمدواره یې دا خبر واکمن ته ورساوه.

واکمن له ډېرې خوشالۍ څخه يبلې پښې د لور پوښتنې ته ورغی. د الله شکر يې پر ځای کړ او ويې ويل: اوس نو زما په خوشالۍ کې څه کم نه دي او الله دې "خير" ته نېکه بدله ورکړي. بيا دربار ته لاړ او پر وزيرانو يې زېرى وکړ.

د الله کړه وو، د يوه وزير د لور سترګه هم له څه وخت راهيسې خوږ شوې وه چې نيم ليدل يې له لاسه ورکړي وو.
وزير له ځانه سره وويل ښايي داسې کس زما د لور د سترګو درمل هم ولري. په پوښتنه پوښتنه يې د "خير" د هستوګنځي پته ومونده ورپسې لاړ. "خير" ته يې بلنه ورکړه که وکولای شي چې د لور د سترګو درملنه يې وکړي او له واکمنه چې يې څه غوښتي له ده يې هم وغواړي.
"خير" د وزير غوښتنه ومنله، څو ورځې وروسته د وزير کره ورغی چې د لور د سترګو درملنه يې وکړي.

څو د واکمن لور د خپلې رنځورۍ او ناروغۍ د ورځو داستان له خپلو نږدې کسانو څخه واورېده. يوه ورځ وروسته يې په پټه خپل پلار ته پيغام ورواستاوه او ورته ويې ويل: "اې پلاره! اورېدلي مې دي چې زما د درملنې لپاره دې شرطونه ايښي وو او په هغو شرطونو دې څو

کسان کړولي دي. اوس نو چې "خیر" زما درملنه کړې ده نو نیاو دا دی چې د نورو شرط هم ومنې تر څو وګړي پوه شي چې زمونږ د ښار واکمن نیاومن دی او ونه وایي چې کله یې هیله تر سره شوه نو د ښېګڼې ارزښت یې ونه پېژانده.

حاکم ومنله او ویې ویل: "باید همداسې وي" او سمدواره یې په خیر پسې ځوک واستاوه. استازي خبر راوړ چې "خیر" د وزیر کره دی. هلته پسې هم استازی ولاړ. استازی داسې مهال ور ورسېد چې "خیر" د وزیر د لور د سترګې درملنه په درملو او پانو سره کړې وه او کورنۍ یې له خوشالۍ خندېدل.

د واکمن فرمان یې ورورساوه او "خیر" یې دربار ته راوست وزیر ورسره هم راغی او د خپلې لور داستان یې تېر کړ.

واکمن "خیر" ته وویل: اې نېکه او ښاغلیه ځوانه! ما د خپلې لور د درملنې لپاره شرط درلود چې وګړیو هغه ته د رسېدو لپاره سرونه ماتول. اوس نو ته په دې کار چې ودې کړ د لویې جایزې وړ یاست. تا لومړی وویل، چې اجوره نه غواړې او یوازې د الله د خوښې لپاره ښېګڼه کوې: خو زه

هم باید په خپله ژمنه وفا وکړم او په خپله نجلۍ هم غواړي چې د ښېګڼې قدر کوونکې وي، نو ته څه وایې؟

وزیر د خبرو اجازه وغوښته او ویې ویل "خیر" زما د لور درملنه هم کړې ده نو پر ما هم ډېر حق لري نو زه هم باید هر څه چې د "خیر" خوښه وي او واکمن یې غوره وګڼي د "خیر" حق ادا کړم.

"خیر" وویل: د الله شکر پر ځای کوم، زما نوم "خیر" دی او زما کار هم د خیر له چارو پرته بل څه نه و. ستا پر شرط پوهېدم او د وزیر ژمنه مې هم اورېدلې وه. خو ما د خپل ژوندانه پور ادا کړی او له دې پرته مې بل کار نه دی کړی. زه هم یوه ورځ ړوند شوم او په همدې درملو یې زما درملنه وکړه او له ما یې هېڅ ونه غوښتل تاسو اوس د خپلو لونو د ودونو او زما د زوموټي خبرې کوئ خو زه نه پوهېږم چې څه ووایم. که رښتیا ووایم نو اوس زما ژغورونکې زما په کور کې ده او زما مېرمن ده او زه په دې خوښ نه یم چې له هغې پرته بله مېرمن هم واده کړم.

واکمن وویل: "خیره!" ستا پر مړانه شابسی وایم خو زه باید پر خپله وینا عمل وکړم. وزیر هم ستا د ښېګڼې بدله

درکول غواړي نو ته زمونږ د نېکۍ د ردولو حق نه لرې. یا زما زوم شه یا ووایه چې پر خپلې وینا څنګه عمل وکړم. زه د خپلې لور واک تا ته درسپارم او تا د ځان سلاکار جوړوم او هر څه چې وایې نو زه یې منم.

وزیر وویل: زه هم د خپلې لور واک "خیر" ته ورکوم او هر څه چې دی وایي په سر سترګو یې منم.

یوه ورځ زمونږ د بلنې ورځ وه او نن د ښېګڼې د بدلې ورځ ده نو "خیر" باید زمونږ خوشالي بشپړه کړي.

"خیر" وویل: چې داسې ده نو زه باید له دواړو نجونو سره په یوه غونډه کې خبرې وکړم او بیا نو د خپلې غوښتنې په اړه درته خپله رایه څرګنده کړم.

واکمن وویل: له "خیر" څخه له نېکۍ او ښېګڼې پرته د بل څه تمه نه لرم. "خیر" چې هر څه غواړي او هر څه کوي هماغسې دې وشي. دواړه نجونې دې له "خیر" سره مخامخ کړی شي.

کله چې یې د واکمن او وزیر لوڼه له "خیر" سره یوازې پرېښودې، "خیر" د خپل ړوند تانه، د خپلې رغېدا او د کوچې په کور کې د خپل ژوندانه او د کوچي له لور سره د

خپلې مينې داستان هغو ته تېر کړ او ويې ويل: "زه د يوه نارينه لپاره يوه مېرمن خوښوم او زما مېرمن د کوچي لور ده. هرو مرو لکه چې هغې نجلۍ پر ما پورې زړه تړلی و نو تاسو هم په چا پورې زړونه تړلي دي. زه داسې نه ګڼم چې تر اوسه مو په دې اړه سوچ نه وي کړی. نو د هغوی نومونه ماته ووايا ست چې همدا نن مو هيله ترسره شي."

نجونو له خپلو ښاريانو څخه د دوو کسو نومونه په ګوته کړل.

"خير" ببرته واکمن او وزير ته ورغی او ويې ويل: تاسو د نجونو واک ماته راکړی؟

واکمن او وزير وويل: "هو همداسې ده. واک مو درکړی او پر خپله خبره ولاړ ياستو."

"خير" وويل: چې داسې ده نو زه دا دواړه نجونه دې دوو کسانو ته چې پر دې کاغذ يې نومونه کښل شوي نکاح کوم.

واکمن او وزير وويل: مبارک دې وي. کاغذ يې ترې واخيست او په خپله ژمنه ودرېدل. په هماغې ورځې يې د واده مراسم جوړ کړل او نجونې يې په خوشاله خوشالۍ سره

خپلو خوښو کړو مړونو ته واده کړي. بیا واکمن وویل: کار لا پای ته نه دی رسېدلی. موږ په خپله کابینه کې داسې پاک زړی او خیر غوښتونکي کس ته اړتیا لرو، تر اوسه دي چې هر څه وویل د نورو لپاره وو، د ځان لپاره باید هم څه وغواړې. زه غواړم چې زما سلاکار واوسې او زموږ ښار ستا له خیر ښېګڼې څخه برخه من وي.

"خیر" وویل: د واکمن نېکي نه ردوم.

واکمن او وزیران خوشاله شول، وروسته خیر په هماغه ښار کې پاتې شو او د واکمن په دربار کې به یې د خیر ښېګڼې رایه ورکوله او ورځ په ورځ به محترم او ګرانېده. د کوچې کورنۍ هم د پیل شوې خیر ښېګڼې له امله ډېره خوشاله وه او ښه ژوند یې تېراوه.

# خیر و شر او د کار پایله

"خیر" د "شر" داستان او خپلې ځان پېښې واکمن ته ویلې وې. د الله کړه وو یوه ورځ چې واکمن او وزیران له "خیر" او کوچني مشر او نورو ملګرو سره له ښاره د باندې یوه بڼ ته تلل، "شر" هم له هماغه ښاره تېرېدونکی و، چې خیر په کوڅه کې وپېژانده. یو کس یې وګوماره چې په "شر" پسې شي او ځای یې معلوم کړي. اوامر یې ورته وکړ، چې سبا هغه دربار ته راولي. له "خیر" پرته بل هېچا "شر" نه پېژانده.

سبا په "شر" پسې ورغی، ورته ویې ویل چې ته واکمن دربار ته غوښتی یې. "شر" چې د "خیر" د کار له پایلې خبر نه و، په منظم لباس کې دربار ته راغی او ډېر په ادب امر ته منتظر ودرېد.

"خیر"د واکمن او نورو برخه والو په مخکې "شر ته وویل:
رامخکې شه خپل نوم او دنده دې ووایه.

"شر" وویل: نوم مې مبشر سفري دی او دنده مې پېرل پلورل دي.

"خیر" وویل: دا د درواغو نوم دې لیرې وغورځوه او خپل اصلي نوم دې ووایه.

"شر" وویل: بل نوم مې نه شته. همدغه مې نوم دی چې ومې وایه.

"خیر" وویل: اوس له خپل نامه منکرېږې او داسې ګڼې چې ستا د عمل بدله هېره شوې ده؟ زه تا ښه پېژنم، ستا نوم "شر" دی او دنده دې هم له شر پرته بل څه نه ده. هغه ورځ دریاده ده چې په دښته کې دې خپل ملګری خیر ړوند کړ او دوه کاڼي دې ترې واخیستل. هغه دې ترې پرېښود او ترې لاړې؟ هغه دوه کاڼي دې څه کړل؟

"شر" چې کله دا واورېدل نو هېښ پېښ پاتې شو او له وېرې پرې لړزه راغله بې پامه په دام کې ونښت د انکار زړورتیا یې نه درلوده. نو بې واکه یې وویل: سمه ده ځار شم زه "شر" یم. په خپله شر، خو هغه کاڼي ما ته په خپله

خیر راکړل او تر اوسه راسره دي. تر اوسه مې په جیب کې دي. ومې ساتل چې یوه ورځ یې هغه ته بېرته ورکړم. ما بدکار نه دی کړی. "خیر" درواغ ویلي زه د هغه له ړندېدا نه یم خبر. هغه په خپله زما څخه جلا شو او زه یې یوازې پرېښودم او لاړ. زه له هغه هېڅ خبر نه یم او بیا مې ونه لیده.

"خیر" وویل اې بې انصافه بیا دې هم درواغ وویل او خپله بدي او ټیټ همتي دې څرګنده کړه. زه چې له تا سره ګرځېږم هماغه خیر یم ښه راوګوره!

"شر" په ځیر ځیر د "خیر" سترګو ته ور وکتل، ویې پېژانده له وېرې یې بدن په لړزه شو او ویې ویل: آه خیره! ما وبخښه. ما بد وکړل او نن پوه شوم چې ښه او بد هېڅکله نه هېرېږي. زه ډېر بد چاری وم خو وروسته پښېمانه شوم. په خپله مې هم ځان بد ایشي. نوم مې ځکه بدل کړ. اې "خیر" ته مې وژلی شې او د بدی غچ راڅخه اخیستی شې، خو ما مه وژنه. زه نور بدچاری نه یم. خیره! پر ما ولورېږه. زه بدمرغه سړی یم.

"خیر" وویل: هو زه کولای شم تا ووژنم خو نه دې وژنم د بدی غچ درڅخه هم اخیستی شم او په سولې کولای دې شم؛ خو نه یې کوم. زه دې بخښم، خو خپل عمل دې نه بخښي او د عمر تر پای پورې دې کړوي او د عمر تر پای پورې به شرمنده یاست. یوازې همدومره مې غوښتل چې پوه شې نور درسره کار نه لرم، خو غوره دا ده چې له دې ښاره لاړ شې ستا د پند لپاره همدا یوه لیدنه بس ده لکه چې تا نور زما لیدل نه غوښتل زه دې هم نور لیدل نه غواړم. ځه!"

"شر" شرمنده، وېرېدونکی او لړزان له درباره ووت، سر یې ټیټ نیولی و او لاړ.

"خیر" یوازې غوښتل چې "شر" ته خپلې بدې وزیادې کړې او راوېښ یې کړي، خو پر کړولو یې خوښ نه و. خو یو کوچی، چې هلته و او د "خیر" او "شر" پر کیسه هم خبر و، کله چې یې "شر" ولید نو وینه یې وخوټېده نور یې ځان کابو نه کړی شو. په "شر" پسې وروسته روان شو او له ښاره د باندې یې هغه ته د خپل عمل سزا ورکړه. کاڼي یې ورنه له جیبه څخه راوویستل، راغی او "خیر" ته یې وویل:

اې خـیره! زړه مـې غـواړي چـې دا دواړه کاڼي چـې سـتا خپل مال دی د یادګار لپاره له ځان سره وساتې. "شر" ته هم د خپل عمل سزا ورسېده."

"خیر" وویـل: هو حلال مال خپل ښښتن ته بېرته رسېږي، خو له ښېګنې څخه هېڅ غوره یادګار نه شته. زما سره اوس داسې ډېر کاڼي شته هغه مې تا ته وبخښل. ما "شر"هم بخښلی و. تا هم بخښم. د "خیر" چلند دا دی:

"ښېګڼه له ټولو سره، بدي له هېچا سره."

په سل ګونو کلونه تېر شول خو د خیر و شر کیسه یوه داسې کیسه ده چې نه هېرېږي.

PROPERTY OF ACKU 11277

PROPERTY OF ARIC Established 1988